مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه: سمسور ودان ۲۰۲۵/۱۰/۱۶

# خطر ومنئ!

یو غریب کیک خرڅونکی د مشهور یوناني میلیاردر (اوناسس) څنګ ته ورغی چې د تیلو ټانکرونو په پاچا مشهور و. هغه نه یې د کیک اخیستلو غوښتنه وکړه.

اوناسس یوه سیکه را وویسته او خرڅونکي ته یې وویل: (شېر یا مات) که تا وګټله نو زما جېب کې موجودې ټولې پیسې او د بان چیک ستا شو او که ودې بایلله نو ټول کیکونه به دلته په مېز راته ږدې.

د کیک والا وویل: ښاغلیه! زه غریب یم، که مې کیکونه وبایلل نو خپلې کورنۍ ته به نن شپه هیڅ خوراک ونلرم.

اوناسس شا ور واړوله او په غوسناک انداز یې وویل: ته کیک خرڅونکی پیدا شوی وې او کیک خرڅونکی به مرې!

ژباړه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ